# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |


پیشرو خپرونه ۴۹ گڼه

۲۵ اپریل ۲۰۱۴

## د ستمګرانو جنايتونه او د ولسونو راپاريدلي کرکه

د هيڅ هيواد خلک، په تيره بيا زيارکښان د بهرنيو او کورنيو ستمګرانو د جنايتونو په مقابل کې چپ پاتې کيدای نشي. که د ستمګری په لومړيو شپو او ورځو کې دا مقاومت ضعيف او کمزوره وي، خو د وخت په تيريدو سره دا مقاومت پياوړتيا مومي. د افغانستان ولس هم د هيڅ بهرني تيري کوونکي په وړاندې چپه خوله پاتې شوی نه دی او د هيواد د استقلال او خپلواکۍ لپاره يې د تاريخ په دوران کې د مورچلونو او سنګرونو لاره نيولې او د خپل سر او مال سرښندنه يې کړې ده.

دا وخت چې امريکاييانو او ناتويي ملګرو يې پر افغانستان تيری کړی دی او څه باندې دولس کاله کيږي چې زموږ ولسونه وژني، له دې تيري سره سم د هرې ورځ په تيريدو د دې ستمګرو ځواکونو په وړاندې د ولسونو کرکه سيوا کيږي. سره له دې چې امريکا پلوه تلويزيونونه او راډيوګانې، ورځپاڼې او خبري آژانسونه او مدني ټولنه، ظالم امريکايي سرتيري خپل ګران او صميمي دوستان ګڼي او د هغوی تيری د خپلو ناوړو ګټو لپاره لازمي او اړين بولي، خو د ولس قضاوت له دې مريیانو او ډارنو روشنفکرانو څخه توپير لري. د افغانستان ځپل شوی ولس نه يوازې دا چې امريکايي سرتيري خپل دوستان نه ګڼي، بلکې هغه متيازن جنايتکاران يې شميري چې د خلکو ژوند يې له نشت پر پوله درولی او هره ورځ لسګونه تنه وژني.

امريکايي واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په دې وروستيو کې هغه سروې خپره کړې چې دری امريکاييانو د افغانستان د پنځه ولايتونو په ۲۰۴ کليو کې له درې زره کسانو سره د مرکې له لارې تر سره کړې ده. دا سروې چې د بهرنيو ځواکونو د ځلند په اړه تر سره شوې ده، ښکاره کوي چې د بهرنيو ستمګرو ځواکونو د جنايتونو او زورزياتي او بدو چلندونو په وړاندې د خلکو کرکه زياته شوې ده. همدا ډول د دې سروې پر اساس، خلکو د طالبانو له جنايتونو هم خپله کرکه څرګنده کړې ده. د دې سروې پر بنسټ د خلکو کرکه له طالبانو څخه د دې لامل شوې نه ده چې ولسونه دې امريکايي سرتيرو ته مخه کړي.

دا سروې په څرګند ډول هغه حقيقت بيانوي چې د پيشرو خپرونې کلونه دمخه د هغه په اړه خپل دريځ څرګند کړی: نه امريکاييان او جنګسالاران، نه طالبان، مستقل او خپلواک افغانستان. د افغانستان تاريخ ښکاره کوي چې يرغلګرانو پرته له دې چې زموږ هيواد په وينو لړلی وي او ولسونه يې په پيړيو پيړيو له پرمختګ څخه شاته پريښودي وي، بل

کار نه دی تر سره کړی. امریکایي یرغلګران هم د نورو په شان زمونږ هیواد په وینو لړلی او زندانونه یې په بیوزله ولسونو ډک کړي دي. همدا دی چې هیڅ ملت، له مریبیانو پرته، یرغلګران خپل دوستان نه ګڼي او هغوی ته د کرکې په سترګه ګوري.

طالبان هم چې د امریکاییانو د نیواک د دوام لپاره انتحار او وژل کوي، د امریکاییانو ضد جبهه یې په خپلو بیرحمانه ستمونو ډیره زیاته کمزورې کړې ده. امریکا د طالبانو جنایتونه د خپلو کرغیړنو جنایتونو لپاره پلمه ګرځولې او د دې تر څنګ چې د خپل اشغال او د یوځي اډو د جوړولو لپاره ترې کار اخلي، په ورته وخت کې هڅه کوي چې د استقلال او خپلواکی د رښتیني جبهې د جوړیدلو مخه ډب کړي. خو د اسیرو ملتونو تاریخ ښکاره کوي چې ولسونه له ښکیلاک څخه د خلاصون لپاره بله لاره نلري، مګر دا چې یو پرمختللی، پر رښتیني دموکراسی ولاړ د خپلواکی غورځنګ په لاره واچوي. همدا چې نن زمونږ ولسونه له امریکاییانو او کورني ګوډاګیانو او له طالبانو خپله کرکه څرګندوي، په خپله د ذهني مقاومت د بډاینې په مانا ده، هغه ذهني مقاومت چې ډیر ژر به په عملي مقاومت بدل شي او د تیري کوونکو تر څنګ به ټول مریبیان په خپلو څپو کې ترې تم کړي.